د افغانستان اسلامي جمهوري دولت
اطلاعاتو ته د لاسرسي کمیسیون

دولت جمهوری اسلامی افغانستان
کمیسیون دسترسی به اطلاعات

Islamic Republic of Afghanistan
Access to Information Commission

## اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون اوونیزه غونډه

| | |
|---|---|
| نېټه | ۱۳۹۹ کال د مرغومي ۱۵مه |
| ځای | اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون، کابل، افغانستان |
| د غونډې رییس | ښاغلی عین الدین بهادري د کمېسیون رییس |
| ګډونوال | د کمېسیون مرستیاله او کمېشنره آغلې نجیبه مرام ، د کمېسیون کمېشنر ښاغلی حمدالله ارباب او ښاغلی د کمېسیېن د دارالانشا ریاست رییس عصمت الله حیدري. |
| د غونډې تنظیموونکی | عصمت الله حیدري |

طلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون اوونیزه غونډه د ۱۳۹۹ کال، د مرغومي ۱۵مه، دوشنبه ورځ د پورته ګډونوالو په شتون کې تر سره شوه او په لاندې مواردو بحث او د اندونه تبادله وشو:

۱. **دولتي مختلط شرکتونه:** په دې ورستیو کې د آریانا آفغان هوایي شرکت څخه د اطلاعاتو نه ورکولو له امله اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون ته شکایت شوی چې نوموړي شرکت غوښتل شوي اطلاعات غوښتونکي ته نه دي ورکړي. پر همدې بنسټ د اطلاع رسونې لړۍ د لا ښهوالي په پار زیاتو توضیحاتو ته اړتیا ده چې؛ « آیا دولتي شرکتونه د دې شرکتونو د سهم لرونکو تابع دي او د دې پر بنسټ د اطلاع رسونې لړۍ هم د مرکزي اداري تابع کېږي» یا دا چې « دولتي او مختلط شرکتونه خپلواک بنسټونه وګڼل شي او باید خپلواک او بېل د اطلاع رسونې مرجع مسوول ولري چې د غوښتونکو غوښتنې ته پر وخت ځواب ورکړي؟». په دې برخه کې اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون د غړو آند دا دی چې؛ دولتي او مختلط شرکتونه پرته د هغوی د سهم لرونکو په پام کې نیولو، خپلواک بنسټونه او جوړښتونه دي او اړتیا ده چې د اطلاع رسونې خپلواکه مرجع ولري. د څارنې او ارزونې آمریت به داسې دولتي شرکتونه تشخیص کوي، د هغوی د اطلاع رسونې مرجع مسوولین به ورپېژني او اطلاعاتو ته د لاسرسي انلاین سېستم ګټې اخیستنې حساب ورته جوړوي.

۲. **له خصوصي بنسټونو څخه د اطلاعاتو غوښتل:** د غوښتونکو د پوښتنو له ډلې یوه پوښتنه چې په دې وروستیو کې د غوښتونکو لخوا ډېره مطرحه کېږي چې؛ « آیا غوښتونکی کولای شي له شرکتونو\له خصوصي او تجارتي بنسټونو اطلاعات غوښتلای شي؟» په داسې حال کې چې په قانون کې اداري تعریف شوې دي او «نور هغه ټولې اداري او بنسټونه پکې شامل دي چې د قانون پر بنا فعالیت کوي او یا داچې د یوې دولتي اداري لخوا کنټرول کېږي» اداره بلل کېږي او غوښتونکی کولای شي اطلاعات ورڅخه وغواړي. اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون کې د درج شوي تعریف په رڼا کې کولای شو، د یو دوکاندار له ورځیني لاسته راوړنې اطلاعات وغواړو په داسې حال کې چې د ښاروالۍ جواز ولري. دا موضوع د خصوصي او تجارتي بنسټونو شخصي چارې جدا اغېزمنې کوي. اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون اړ دی چې په دې مسله له سره غور وکړي او په خصوصي او تجارتي برخه د غوښتونکو غوښتنې ځانګړې کړي. نو ښاغلی عین الدین بهادري او عصمت الله حیدري ته دنده ورکړل شوه چې په دې برخه کې څېړنې وکړي او د کمېسیون له مخکېنیو غړو او اهل خبر وګړو سره هم اړینې مشورې وکړي ترڅو کمېسیون د متحدالمال\ مصوبه له ټولو بنسټونو او غوښتونکو سره شریکه کړي.

خانه چهارم، سرک ششم قلعه فتح الله، شهر کابل، کابل، افغانستان
www.askforinfo.af www.aic.gov.af info@aic.gov.af
۰۰۹۳(۰)۷۸۹۶۰۵۹۷۳

کمیسیون نظارت دسترسی به اطلاعات / کمېسیون
Oversight Commission on Access to Information
۱۳۹۲ هـ ش

۳. **د سترې محکمې او لوې څارنوالۍ د اطلاعاتو ډلبندۍ کړنلاره:** له نېکه مرغه د افغانستان اسلامي جمهوري دولت سترې محکمې او لوي څارنوالۍ د اطلاعاتو ډلبندۍ کړنلاره؛ د مدني بنسټونو، رسنیو، اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون او اړوندو ادارو په سلا او مشورو تدوین او دې وروستیو کې د سترې محکمې عالي شورا لخوا تصویب شوې ده. اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون غړو د دې کړنلارې ټول متن ښه بللی او ټینگار یې وکړ چې لومړی اړوند ټول اړخونه دا کړنلاره لاسلیک او ورسته به یې کمېسیون هم لاسلیک کړي.

۴. **د اطلاعات غوښتلو مخکېني فورمونه:** څرنگه چې اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون غړي په جریان کې دي؛ اطلاعاتو ته د لاسرسي مخکېني قانون په رڼا کې، د غوښتنې فورم لس افغانۍ بیه درلوده چې دا فورمونه د دولت بودجې بانډې چاپ شوي وه. د یادولو وړ ده چې دا پاڼې د اطلاعات او کلتور وزارت آرشیف ریاست او د کمېسیون مخکېني مقر کې پاتې دي او اړتیا ده چې د دغو بیه لرونکو پاڼو برخلیک مشخص شي. دا په داسې حال کې ده چې؛ د اطلاعات غوښتلو اوسنی فورم، سربېره پر دې، د معلوماتو په اساس وړاندېځینو ادارو د دغو فورمونو له لارې پیسې هم ترلاسه کړي دي. په همدې اساس د څارنې او ارزونې آمریت او د دارالانشا ریاست ته دنده ورکړل شوه چې دا سکالو اطلاعات او کلتور وزارت په همغږۍ، مالیې وزارت په مشورو او د ادارو د عوایدو سوابقو د څېړنې په پایله کې اړین اقدامات وکړي.

۵. **د ډرېورانو امتیازي معاش:** اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون ۱۳۹۹کال د لیندۍ ۸مه اوونیزه غونډه کې د کمېسیون کمېشنرانو د ډرېورانو امتیازي معاش اړوند مندرجه برخه، د نن ورځې په غونډه کې تعدیل شوه او دغو ډرېورانو ته د کمېسیون د مالي او اداري طرحې سربېره د میاشتې ۱۲۵۰۰ افغانۍ امتیازي معاش وړاندیز او ورکړل شي.

درنښت

د کمېسیون رییس ښاغلی عین الدین بهادري

د کمېسیون مرستیاله آغلې نجیبه مرام

د کمېسیون منشي ښاغلی حمدالله ارباب